*ليکونکی : دجانکوالي دليکونکي ستاف له خوا .*

*منبع اودخپريدو نيټه : کمان ډريم « 2020-02-01». .*

*ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سيدحسام «مل».*

***---[26] -----------------------------------------------------***

## *دسولی په نامه نومول نه هرڅه بل څه دي ، اما نيوکه کونکی خبرداری ورکوي چي دمتحده اياﻻتواوطالبانومعا ملی دنه ختميدونکي جګړي غلطی مثالونه افشا کړل*

## *so called „peace deal" is anything but „critics warn US – Taliban deal exposes fallacies of endless war paradigm*

***په کنګره کی جمهوريخواه سنا تور« باربا رلی» خبرداری ورکړ ،چي دغه تړون په افغانستان کی په زرګونوسرتيری پريږدي اودا فغا نستا ن د بيا رغوني لپا ره د سولي جوړوني ،بشری متمرکز پراختيا يا د حکومتداری اصلاحا تو کي جدی پانګوني نه لري .***

*The agreement, warned Rep. Barbara Lee, "leaves thousands of troops in Afghanistan and lacks the critical investments in peacebuilding, human-centered development, or governance reform needed to rebuild Afghan society*




***د ا فغا نستان د پخلا ينې لپا ره د متحده ايالاتو ځا نګړی استا زی زلمی خليلزاد او د طا لبا نو د مشرمرستيال ملا عبدالغني برادر د فبروري په (29) کال (2020) د قطري په پلازمينه دوحه کې د مراسمو په ترڅ کې د سولې موافقه لاسليک کړه . چې د ( 14 )ميا شتو په اوږدو کې له ا فغا نستا ن څخه د بشپړ سرتيرو وتل لپاره مهال ويش دی ځکه چې دا د خپل ترټولو اوږدې جګړې څخه د وتلو په لټه کې دی پومپيو پر طا لبا نو غږ وکړ چې له جها دي ډلو سره د اړيکو د قطع کولو لپا ره خپلو کړو ژمنو ته درنا وی وکړي ځکه چې واشنګټن له افغا ن ياغيانو سره يو مهم تړون لاسليک کړ .***

***)عکس: کريم جعفر / د AFP ګيټي عکسونه***

*********

په دا سي حا ل کي چي جمهور ريس« دونا لد ترامپ» دشنبه په ورځ په ډير مغرورانه اومتکبرانه بڼي سره د متحده ايالاتو اود طا لبا نو لخوا په افغا نستا ن کي د موجوده جګړي پای ته رسولو تړون چی شاوخوا دغه جګړه دوه لسيزه دوام وکړاودهغه په ترڅ کي افغانان اومنطقه ويجاړاو وځپل شو يومهم ګا م وبا له. اما په کنګره کی جمهوريخواه سناتور ښاغلي باربا را لي (Barbara Lee) د جنګ ضد ترټولو قوی غږ پورته کړ اوپه ډاګه څرګند کړ چی دغه معا مله (د ا مريکی او د طا لب ترمينځ تړون) پرته له شرمه بل څه نور مفهوم نه لري . هغه د خپل و ينا په ترڅ کي وويل : له شا وخوا دوه لسيزو د نه ختميونکي جګړی څخه وروسته دارا څرګند شوچی په افغانستان کي نظامی برخورد دشخړی دحل لاره نه دي – لی وويل : اما دا په اصطلاح هرشی به اووسی خو اما دسولی توافق نه دي .

**ګارد ين راپور ورکوي :**

*د شنبی په ورځ په دوحه کي د طا لب اودامریکی ترمینځ د تړون دلاس لیک په مراسمو کي د متحده ایالاتو د بهرنی چا رو وزیر ما یک « **پمپیو**» اود طا لبا نود مشرمرستیا ل **ملا عبدالغنی «برادر»** د لوړپوړو چارواکو غونډی ته وینا وکړه ، که څه هم چي دغه تړون د ا مریکی له خوا د سولی دا ستا ذی **ځلمی «خلیلزاد»** له خوا لاس لیک شو ، خود ا لمړی ځل وه چی دامریکی د کا بینی یوه غړی (**پمپیو**) د یاغیا نو له ډلو سره ولیدل .*

*طا لبا نو هوکړه کړې چې له القاعده او نورو نړیوالو ترهګرو ډلو سره اړیکې قطع کړي او د نورو هغو افغا نا نو سره د سولې خبرو ته کښېني او د دې په بدل کې ، واشنګټن به د خپل سرتیرو په مرحله ای ایستلو پیل کړي.*

*د اغلی « **لي** » په وینا هیڅوک نه با ید داسی فکر وکړي چي دابه د (سولی) توافق اوسي دغه دامریکي په کنګرس کی ښځنی سناتوره یعنی ( **با ر با را لي**) په افغانستان کي دغه راپا تي په زرګونو سرتیرو اودسولی درامینځته کیدو لپاره ، دانسانی پراختیا یا دحاکمیتی اصلاحا تو د پلی کولو اویا د ا فغا نستا ن د ټولني د بیا رغولو په منظور په اصل کی د پا نګوني نشتوالي دي.*

*لکه هغسی چي د سولی مد ا فعین یا ملاتړو وایي چي حتی د (2001) کال د سپټا مبر د یولسمی نیټی له حملي څخه وروسته د متحده ایالاتو دیرغل نه د مخه هم په افغانستان کی هیڅکله د شخړی د حل لار نظا می نه وه کوم چی نن ورځ هم د شخړی دحل لار ، نظامی لاره نه دي . امریکایي ا نځورونه یا خیالات کوم چي هغه په جګړه کي څه په لاس راوړي حتی وروسته له هغه چی د واشنګټن له خوا دغه د نظا می مبتذ ل دحل لاره بی مفهوم شوه اما له بده مرغه چي دلته په افغانستان کي په نا مطلوب او بی له کوم ګټی او نیا ز زرګونه انسا نا ن خپل ژوند دلاسه ورکړل یا دغه نظامی تش مغزو ځواکمنا نو په زرګونو انسا نا ن د مرګ پولي خواته ولیږل .*

**ستیفن ما یل** (**Stephen Miles**) *د وړنی بی د جګړی اجرا یوی مد یر وویل : د دوه لسیزو سولي ته مو هڅه وښود ل چي په ا فغا نستا ن کي دامریکی د متحده ایالاتو نظا مي لار(ګزینه) د شخړی دحل لاره نه دي .*

**ستیقن** *زیا ته کړ په داسي حا ل کي چي دامریکی دسرتیرو دحضور اویا دشتون کموالي خپله یو (ښه راغلاست ګام دی) – اما دغه تړون په بشپړه توګه سره نه دی توانید لي چي داشغا ل داسا سی منطق سره مقا بله وکړي یعنی چي داوږدی مودی د سولی د ټیکا و لپاره کومه ستراتیژی تضمین نه لري اد حساب ورکونی اودعدالت څخه یو تش یا نامکمل تړون دي کوم چي نشو کولي په ډاډ من بڼی سره دی ته د سولي تړون ووایو .*

*__ستیفن__ دآغلی __(لیی)__ په ښیر وویل : چي دغه تړون کوم چي په افغانستان کي تر نژدی دوه پردریمه (2/3) برخه امریکا یی ځواکونو ته د ترهګر □ ضد اهدافو لپاره دپا تی کید و مجوز ورکوي داهغه شمیر سربازان دی کوم چی __دونالد ترامپ__ کله چی خپل دفتر ته د کا رلپا ره تشریف را وړي نودا په هیڅ بڼی سره د سولي تړون نه ګڼل کیږي ، ګرچه د سرتیرو د شمیر کمید ل خپله یو مثبت پرمختګ دي اما هغه وویل چي دغه تړون د نه ختمیدونکي جګړی پا یلی یا د دی جنګ د ختمید و تړون نه دي یعنی دغه تړون وروسته دڅو لسیزو تاوتریخوالي اودسولي اوثبات دمینځه تلو اودرامینځته کیدو کوم رغنده تضمین نشی کولي .*

*د بهرنی سیا ست ماهر اودتولنیزو څیړنو د تریکنتیننتل (Tricontinental) د ا نستیوت ریس ښاغلی __ویجی پرشا د__ (Vijay Prashad) ددی وضیعت ناڅرګند تیا په دي ډول وړاندي کوي :*

***« متحده ایالات دطالبانو په وړاندي جګړی ته لاړ اوبیا نژدي دوه لسیزی وروسته ا فغا نستا ن بیرته طالبانو ته وسپا ره »***

*— Vijay Prashad (@vijayprashad) February 29, 2020*

*اودجنګ په وړاندي تجربه لرونکي ډلو په فیس بوک کي داسي تویت کړي :*

*« دلاس لیک شوی سولي تړون په اړه څنګه چي نورو ویلي : دا دطالبانو له خوا ورته توضیحی دریځ دی چي طالبانو دسپامبر میاشت (۱۱/۹) بیرته هغه مها ل ته راګرځوی یا رسوی یعنی چي دتروریستی ډلو دکوربه توب په بدل کي دسرتیرو ایستل (۱۱) کاله وروسته بیاهم دپام وړبد لون نه دي .بلکه یواځی د تریلینونو دالر اود بی شمیرو انسا نا نو دژوند هد ر اودلاسه ورکولو جګړه وه یا جګړه دي چی دتاریخ په ذهن کی به پاتي شي :*

*— About Face: Veterans Against the War (@VetsAboutFace) February 29, 2020*

*«لیی» دغه تړون دپرمختګ په لار بیاهم څه ناڅه یوګام وباله ، ځکه چي مونږ نه ختمیدونکي جنګ مخه نیولو لپاره کار کوو – هغه وویل چی ددی تړون پوره پیژندل لا هم مبهم اوناڅرګند دي چی لاهم ډیر کارته اړتیا لری په شمول دنظامی ځواک کارولو لپاره ددوه واکمنو (Authorization) منسوخ کول یوله کا ل (2001) څخه اوبل ( 2020) کال پوري . دمتحد ایالاتو نظارت ،جنګ ، او نظامی خودسرعملیاتونه په افغا نستا ن ،عراق ، سوریه ، ایران ، سوما لیا ، لیبیا ، یمن او نورو ځا یونو کی چی لا ترا وسه دوام لري .*

*د کنګرس دغه غړی **(لیبی)** وویل دامریکې د کنګرې غړی با ید دجنګ اود سولې په اړه زمونږ دا ساسی قا نون پر محتویا تو با ندی له سره تا کید با ید وکړی.*

------------------------------------ **په درنا وی «2020-03-03»**